# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۲۸مه | د ۲۰۲۰ د جون ۱۷مه | ۵۵۲مه ګڼه


## کتاب

۴ مخ

### د مطالعې فن




په دې کتاب کې د مطالعې د اغېزمنتیا لپاره داسې سپارښتنې شوې چې په علمي اصولو ثابتې شوې دي. په کتاب کې وړاندې شوې طریقې ډېرې اغېزناکې او ګټورې دي. د دغو سپارښتنو په عملي کولو سره مو د مطالعې، زده کړې او یاد ساتلو کیفیت لوړولای شئ.

### کرنې وزارت: د هلمند د پنبې د پروسس لویه فابریکه (بُست تصدي) بېرته فعالېږي



د کرنې او مالدارۍ وزارت وايي چې د هلمند د بُست تصدۍ چې په دغه هېواد کې د پنبې د پروسس لویه فابریکه ده، بېرته فعالېږي. د دغه وزات په خبرپاڼې کې ویل شوي چې د یادې تصدۍ د بیا فعالېدو لپاره ورته د حکومت له خوا بودیجه منل شوې ده.

کرنې او مالدارۍ وزارت دغه راز ویلي چې سږ کال د هلمند پر نږدې ۱٦ زره هکټاره ځمکې باندې د پنبې کرکیله شوې چې لږ تر لږه ٦۵۰ زره مېټریک ټنه مالوچ به تولید کړي.

په هلمند کې د بُست تصدۍ په کورنیو جګړو کې له فعالیت څخه پاتې او تر یوه حده ویجاړه شوې وه. دغې تصدۍ د ۳۰ زره ټنو پنبې د پروسس وړتیا درلوده.

د کرنې وزارت د معلوماتو پر بنسټ، په دغې فابریکې کې د پنبې دانې له پروسس وروسته د مالوچو په شمول غوړي، صابون او کونجاره تولیدوله.

# د حکومت پر پور اخیستنه نیوکې؛

## خلک: زموږ د روغتیا په پلمه د مفسدو کسانو د جیبونو ډکولو ته پور مه اخلئ



۳

### د افغان سولې لپاره سیمه ییزې هڅې او اغېزې یې

۲ مخ

### اثر سوء تعطیل مکاتب بر روند تعلیمی کشور

۲ مخ

### د کرونا ویروس د اقتصادي زیانونو د مخنیوي لارې چارې

۳ مخ

### وزارت صحت عامه: شمار مجموعی افراد وفات شده به دلیل کرونا در افغانستان به ۴۹۱ تن رسیده است



وزارت صحت عامه، از ثبت ۷۹۳ واقعۀ جدید بیماری کرونا، طی ۲۴ ساعت گذشته در ۳۳ ولایت کشور خبر داده می گوید که تعداد مجموعی مصاب شدگان به این ویروس در افغانستان به ۲٦۳۱۰ تن افزایش یافته است.

در خبرنامه ی مطبوعاتی وزارت صحت عامه آمده است که در ۲۴ ساعت گذشته ۱٦۴۰ نمونۀ مشکوک در لابراتوارهای کشور، مورد آزمایش قرار گرفته که از این میان، ۷۹۳ واقعه آن مثبت؛ تشخیص شده اند.

در ادامۀ خبرنامه آمده است که از مجموع این تعداد تازه ثبت شده، ۴٦۰ در کابل، ٦۱ در بدخشان، ۵۹ در تخار، ۵۸ در بامیان، ۳۴ در لوگر، ۳۴ در بغلان و ۲۸ تن در پکتیا به ویروس کرونا مبتلا شده اند.

بر اساس خبرنامه، به تعداد ۱۳ تن در ولایت لغمان، ۱۳ در کندهار، ۱۰ در زابل، ٦ در پروان، ٦ در هلمند، ۵ در پنجشیر، ۴ در کندز و ۲ تن در نیمرزو نیز به ویروس کرونا مصاب شده اند.

وزارت صحت عامه می گوید که در ۲۴ ساعت گذشته ۳۸۱ تن بهبود یافته است که تعداد مجموعی بهبود یافته گان به ۵۵۰۸ تن رسیده که این یک خبر خوش است.

این وزارت، از ثبت ۱۳ واقعه فوتی به اثر ابتلا به کرونا در یک شبانه روز گذشته خبر داده، می گوید که شمار مجموعی افراد وفات شده در افغانستان به ۴۹۱ تن رسیده است.

### د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې له روانو هڅو ملاتړ ته دوام ورکوو



۵ مخ

### د امریکا، روسیې او افغانستان ترمنځ په درې اړخیزه غونډه کې د بین الافغاني خبرو د ژر پیلېدو غوښتنه شوې

د امریکا متحده ایالتونو، روسیې او د افغانستان لوړپوړو چارواکو د افغان سولې بهیر په برخه کې د وروستیو پرمختګونو او د دغه بهیر پر وړاندې د پرتو خنډونو په اړه د ورمه ورځ ناوخته په یوه درې اړخیزه غونډه کې خبرې کړې دي. بهرنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي چې د بهرنیو چارو وزارت سرپرست محمد حنیف اتمر د افغانستان د پخلاینې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او د افغانستان لپاره د روسیې د فدراسیون ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ترمنځ د ویډیو کنفرانس له لارې د یوې درې اړخیزې غونډې بندوبست کړې و.

د دغو خبرو وروسته په ګډه اعلامیه کې ویل شوي چې درې واړه هېوادونو د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې د بهیر او د تېرو ۱۹ کلنو د افغانانو د لاس ته راوړنو د خوندیتوب په اړه خپلې ژمنې یو ځل بیا تکرار کړې او ورڅخه یې کلک ملاتړ کړی دی.

په اعلامیه کې راغلي: «روسیې او د امریکا متحده ایالتونو حکومتونو د طالبانو د بندیانو د خوشې کېدو په برخه کې د افغان حکومت ژمنو چې د بین الافغاني خبرو د ژر پیل لپاره یو اړین ګام دی، هرکلی کوي». دا درې اړخیزه غونډه چې د تیرې درې اړخیزې غونډې په دوام جوړه شوې وه، ګډونوالو همدارنګه د بین الافغاني خبرو لپاره د مثبت چاپېریال رامنځ ته کېدلو اهمیت ته په کتنې، د باور د فضا د پیاوړي کېدو لپاره په افغانستان کې په روان تاوتریخوالي کې د پام وړ کمښت غوښتنه هم کړې ده. په اعلامیه کې راغلي: «د تاوتریخوالي د کمېدو د څارنې د میکانېزم د رامنځ ته کېدو په اړه د افغان حکومت وړاندیز چې د تاوتریخوالي شواهدو او اقداماتو لپاره د سولې په بهیر کې د دواړخیز حساب ورکول ډاډمن کوي یو مثبت نظر دی».




Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos

کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

# د افغان سولې لپاره سیمه ییزې هڅې او اغېزې یې

د افغان سولې په تړاو د امریکا، روسیې او افغانستان د استازو ترمنځ درې اړخیزه ویډیویي غونډه شوې ده. په همدې تړاو په خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي چې ټول لوري دې د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره چټکې هڅې وکړي. په دې غونډه کې د افغانستان په استازیتوب حنیف اتمر، د امریکا په استازیتوب زلمي خلیلزاد او د روسیې په استازیتوب ضمیر کابلوف برخه اخیستې وه. په اعلامیه کې د بندیانو د خلاصون هرکلی شوی او ویل شوي چې نور بندیان دې هم خلاص شي. دغه راز له طالبانو هم غوښتل شوي چې د بین الافغاني خبرو له پیل وړاندې تاوتریخوالی کم کړي.

له بین الافغاني خبرو سره هممهاله او تر هغه وړاندې د افغانستان په تړاو د سیمې او د نړۍ د سترو هېوادونو ترمنځ همغږي، گډ کار او توافق د افغان سولې لپاره حیاتي ارزښت لري. د افغانستان په لانجه کې ښکېل اړخونه له همدغو سیمه ییزو او نړیوالو قدرتونو سره اړیکې لري او د دوی دریځ مخامخ د سولې پر پروسه اغېز پرې باسي. که دوی ټول توافق ولري او د روانې پروسې ملاتړ وکړي، نو نه یوازې ژر به بین الافغاني خبرې پیل شي، بلکې بریالۍ به هم شي. که دغه هېوادونه د توافق او همکارۍ پر ځای په افغانستان کې د ټکر تگلارې ولري، نو بیا طبیعي ده چې زموږ د سولې روانه پروسه به له سختو خنډونو سره مخ وي او آن بریا یې ناشونې کېږي. له همدې امله دا ډېره مهمه ده چې امریکا او د سیمې هېوادونه په افغانستان کې د سولې په اړه توافق ولري او گډ کار وکړي.

خو په دې چاره کې یوه مسأله مهمه ده او هغه دا چې د سولې په پروسه کې چې څه ډول ټول کورني اړخونه باید دخیل شي او رضایت یې تر لاسه شي، دغسې باید د افغان سولې په تړاو په سیمه ییزه اجماع کې ټول هغه سیمه ییز هېوادونه او گاونډیان چې د افغانستان پر حالاتو اغېز لري، ښکېل شي. د افغان سولې په تړاو امریکا او پاکستان په ژوره معامله کې دي، تر دې چې ځینې اندېښنې یې هم را پورته کړي، خو ایران بیا یو مخ هېر شوی دی، چې پکار ده هېر نه شي. دغه راز هند لا هم ناراضه ښکاري. روسیه او د منځنۍ اسیا هېوادونه بیا د سولې روانې پروسې ته ورگډ شوي او یا هم ترې راضي ښکاري چې دا یو مهم پرمختگ دی. چین هم تر ډېره راضي ښکاري. له همدې امله مهم اړخونه راضي شوي چې دا ښه گام دی، خو هغه هېوادونه هم باید قانع شي چې تر اوسه پورې له دې پروسې سره پټ او ښکاره مخالفت کوي او ترې منزوي دي.

د مسکو، واشنگټن او کابل د درې اړخیزې غونډې د دوام ژمنه شوې ده. پکار ده چې همداسې غونډې زیاتې شي، له نورو هېوادونو سره هم له نږدې کار وشي، څو ټول شته خنډونه او اختلافات ختم شي. د سیمې هېوادونه او د نړۍ ستر قدرتونه ټول باید په افغانستان کې د ټکر پر ځای، همکارۍ، سولې او گډ کار ته وهڅول شي او همدا چاره زموږ سره په واقعي سوله کې مرسته کوي.

# اثر سوء تعطیل مکاتب بر روند تعلیمی کشور

نویسنده: مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

یکی از محسوس ترین نتایج همه گیری وبای کرونا، تحت تاثیر قرار دادن نظام های آموزشی در سرتاسر جهان میباشد. بربنیاد گزارش سازمان ملل، این بیماری یک سوم از جمعیت جهانی را در قرنطین قرار داده و ۱٦٦ کشور مکاتب و دانشگاه های شان را برای محدود کردن گسترش این ویروس بسته اند. وضعیت پیش آمده، روند آموزش و پرورش را برای یک و نیم میلیارد کودک و نوجوان مختل نموده است. شیوع این ویروس در افغانستان، دروازه های ۱۸۰۰۰ مکاتب را پیش از آغاز سال تعلیمی ۱۳۹۹ به روی بیش از ۹ میلیون دانش آموز و ۲۰۳۲۰۱ آموزگار، و دروازه های ۱٦۹ موسسه تحصیلات عالی دولتی و خصوصی را به روی ۳۸۸۱۹۱ دانشجو بسته نمود.

وضعیت پیش آمده از تمام کشورهای جهان به شمول افغانستان خواستار این است که برای مسئله تعطیلی مدارس دو اقدام عمده؛ استفاده از شبکه های تلویزیونی و آموزش مجازی از طریق فضای انترنت را روی دست گیرند. این اقدامات نظام آموزشی کشور را بطور ناگهانی از دنیا حضوری وارد دنیا مجازی می نماید، دنیایی که نهادهای مسئول و مردم با آن تجربه و آشنایی درست ندارند. در شرایط کنونی، زیر بناهای حتی دسترسی به برق و در کنار آن تکنالوژی، بخصوص شبکه های انترنتی در کشور به حد رشد نکرده است که بتواند تسهیلات لازم را در شرایط حساس آموزشی کنونی ارایه نماید. این معضله ایست، بسیاری از کشورهای جهان با آن مقابل میباشند. بطور مثال، در ایالت کالیفرنیای امریکا، ۱٦ ٪ شاگردان در خانه هیچ نوع دسترسی به انترنت ندارند. دسترسی ۲۷ ٪ دیگر محدود با سرعت پایین است، و ۱۰ ٪ دیگر شاگردان تنها از طریق تلیفون‌های هوشمند به انترنت دسترسی دارند. بدون شک، این مشکل در افغانستان به مراتب بیشتر از کالیفرنیا است. فقر و اقتصاد ضعیف مانع دسترسی دانش‌آموزان به امکانات محدود تکنالوژی موجود می گردند. بسیاری خانواده‌ها حتی برق و تلویزیون هم ندارند. این یعنی استفاده از فضای مجازی برای اکثریت دانش آموزان در کشور چون افغانستان ممکن نمی باشد. اثرات سوء تعطیل مکاتب در این عرصه‌ها بیشتر محسوس می باشد:

توقف روند یادگیری:

مکاتب به طور معمول مسئول آموزش و انتقال دانش و مهارت‌های مورد نیاز برای رشد و پیشرفت کودکان و جوانان هستند. تعطیلی مکاتب خصوصاً برای شاگردانی که عملکرد یادگیری ضعیف تری دارند و نیازمند مداومت در یادگیری و رسیدگی و پیگیری توسط معلم هستند، اثرات منفی بیشتری باقی می‌گذارد و آنها را از ریتم درسی عقب می‌اندازد. در کنار اینها، کشور ما با مشکلات زیاد سواد مواجه میباشد، اکثریت مطلق خانواده‌ها آگاهی ابتدایی از نظام آموزشی ندارند و یا هم توجه به این امر ندارند، همه امید و اتکا آنها به مکتب، معلم و کتاب درسی است. در نبود مکتب و معلم اکثریت آنها نمی‌دانند چگونه به فرزندان شان کمک کنند. این وضعیت بعداً، دانش آموز و آموزگار را در شروع دوباره مکاتب با مشکل مواجه می نماید. توقف یادگیری یکی از بدترین اثرات دوران قرنطین میباشد، به ویژه شاگردانی که عملکرد ضعیف در مکتب داشته اند و با فشار معلم به آموزش وا داشته می شدند، این دانش آموزان از مدرسه فاصله گرفته و گرفتار توقف یادگیری شده اند.

مصروف شدن متعلمان در کارهای دیگر:

وقتی نهادها تا زمان نامعلوم و طولانی تعطیل شوند و از تجمعات هم جلوگیری صورت گیرد، این امر برای خانواده‌های که اقتصاد چندان خوبی ندارند، سبب از دست رفتن یا هم تعطیل شدن محل کسب و کار شان می گردد، این وضعیت خانواده ها را دچار کاهش درآمد نموده و اقتصاد شان را در تنگنا قرار میدهد. حالت پیش آمده بسیار از خانواده‌ها را مجبور میسازد که با از بین رفتن قرنطین کودکان و نوجوانان شان را به کارهای چون دست فروشی مصروف نمایند. این در حالیست که مکاتب خصوصی نیز معاش شان پرداخت نمی گردد و از لحاظ اقتصادی مشکلات زیاد مواجه میباشند، این وضعیت سبب میگردد که اساتید گرامی و دانش آموزان دچار آشفتگی و پریشانی ذهنی شوند که بعداً با شروع مکاتب نیز جبران این ضرر مدت زمان میخواهد. خصوصاً این که در کشور ما در مناطق محروم، تضمینی وجود ندارد که بتوان همه شاگردان، مکاتب را به طور موقت ترک کرده اند دوباره پشت میز مکاتب برگردند.

انزوای اجتماعی:

مکاتب فضایی برای تعامل اجتماعی هستند؛ با تعطیلی آنها، هزاران شاگرد ارتباط با دوستان و افراد دیگر را از دست داده و دچار انزوا می‌شوند. این امر، آموزگار و دانش آموز یکبار دیگر با اضطراب شروع مکاتب مواجه میسازد. شاگردان که صنف ۱۲، یا هم فارغ از ۱۲ میباشند این وضعیت را بدتر تجربه می نمایند، چون آنها هیجان رفتن به سوی پوهنتون، کانکور و صنف های آمادگی کانکور را داشته اند.

بی‌برنامه شدن کودکان:

در زمانی که متخصصان حد اکثر زمان استفاده کودکان و نوجوانان از تکنالوژی مانند تلویزیون و انترنت را دو ساعت در روز اعلام کرده‌اند، خانه نشینی دانش آموزان به سبب تعطیلی مکاتب و کلیه فعالیت‌های اجتماعی دیگر موجب بر هم خوردن نظم در خانواده‌ها شده و در موقعیتی که کودکان حتی برای جلوگیری از شیوع بیماری قادر به ترک منزل و بازی در فضای آزاد و پارک‌ها نیز نیستند، استفاده از بازی‌های ویدیویی، استفاده از موبایل همراه، کمپیوتر و تلویزیون به شدت افزایش یافته است که بدون شک تاثیرات کوتاه مدت و بلند مدتی بر عادات و رفتارهای کودکان باقی خواهد گذارد. گرچه تلویزیون ها و صفحات مجازی برای آموزش شاگردان مکاتب فعالیت هایی دارند، ولی اولاً خو این برنامه ها توسط تمام کودکان تعقیب نمی شود، ثانیاً آنانیکه تعقیب می نمایند هم به شکل مداوم و بلا وقفه این کار را نمی کنند که خود تسلسل و مؤثریت چنین برنامه‌ها را زیر سوال می برد. در کنار آن بسیار دانش آموزان تنها گزینه آموزش برایشان همین برنامه‌های حضوری، رفتن به مکتب و تکیه بر معلم می باشد. در صورت ارایه دروس از راه دور (رسانه‌ها یا انترنت) باشد، مستلزم همکاری والدین و رسیدگی به تکالیف یادگیری آنها است که متأسفانه این فرهنگ اصلاً در خانواده‌های افغان وجود ندارد. ممکن است برخی از معلمین محترم فکر کنند حالا که نمی توانند فرصت آموزش را برا ی شاگردان مهیا نمایند، ولی بهتر از توانمندی ها و فرصت های که برایشان ایجاد میشود در چنین شرایط استفاده نموده و مسؤلیت شان تا حدی امکان ادا نمایند.

بازگشت به شرایط عادی بلا فاصله اتفاق نمی‌افتد این یک بحران بزرگ است که تبعات روانی، اجتماعی و اقتصادی آن ماه‌ها و شاید سال‌ها باقی خواهد ماند. تاثیر پاندمی بیماری کووید-۱۹ و هر بحران دیگری در این ابعاد، بر اقشار آسیب‌پذیر و ضعیف اجتماعی به مراتب شدیدتر و ماندگارتر است. بنابراین، مهم است به معلیمن تذکر داده شود که اگر با بازگشایی مکاتب، دوباره دانش‌آموزان به سر صنف بازگشتند، بسیاری از آنها دیگر همان افرادی نیستند که قبل از تعطیلی بوده اند. برخی از آنها عزیزانشان را از دست داده‌اند، برخی از آنها با از دست دادن شغل و محل درآمد خانواده با بحران و سختی‌های اقتصادی و معیشتی حاد رو به رو شده‌اند، ممکن است عده‌ای از آنها با خشونت خانگی مواجه شده باشند و حتی اگر هیچ کدام هم نباشد، از سر گذراندن یک دوران پر استرس و پر از اخبار بد و ترسناک، امنیت و آسایش خیال بسیاری از آنان را بر هم زده است و بازگشت به شرایط عادی ممکن است طولانی تر از آنچه تصور می‌شود، باشد.

تحقیقات نشان می‌دهد که بازگشت دانش‌آموزان به شرایط عادی بعد از تعطیلی مکاتب در جریان نسل کشی در رواندا در سال ۱۹۹۴م، تا ۱٦ سال طول کشید.

آموزش از راه دور هنوز در بسیاری از جوامع مشکل دسترسی به انترنت پر سرعت و ابزارهای الکترونیک ملازم آن یعنی کمپیوتر و موبایل هوشمند با محدودیت مواجه است. بنابراین، برای کمک به دانش آموزانی که به دلیل فقر و عدم امکانات اقتصادی خانواده و یا به دلیل زندگی در مناطق دور دست، امکان استفاده از امکانات فضای مجازی و آموزش از طریق انترنت را ندارند، برنامه‌های آموزشی از طریق تلویزیون و رادیو گزینه بسیار مؤثری هستند که می‌توانند بخشی از نابرابری آموزشی را تا حدی جبران کنند. اما بهترین بدیل همکاری های مستقیم اعضای فامیل با کودکان و نوجوانان شان می باشد. طوریکه آنها همه روزه ولو چیزی از مضامین اساسی مکتب مانند: زبان، ریاضیات، تاریخ و جغرافیه در صنوف ابتدایی و علاوه برینها؛ فزیک، کیمیا و بیالوژی در صنوف بالا را مرور نمایند، چراکه چیز کم ولی دوام دار، بهتر است از آنچه که زیاد ولی یکباره باشد.

# ملي امنیت شورا: د دوو زرو نورو طالب زندانیانو د خوشي کېدو لړۍ هم روانه ده

ملی امنیت شورا وایي چې د دوو زرو نورو طالب بندیانو د خوشې کېدو لړۍ روانه ده او دا موضوع باید د سولې مذاکراتو د پیل پر وړاندې خنډ ونه گرځي.

د دې شورا ویاند جاوید فیصل ویلي چې د درې زرو طالب بندیانو له ازادولو سره د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې خبرو اترو د ژر پیلېدو لپاره زمینه برابر شوې ده.

که څه هم افغان حکومت له څنډ پرته د سولې خبرو اترو د پیلېدو غوښتونکی دی، خو طالبان ټینگار کوي چې د بین‌الافغاني خبرو له پیله مخکې باید د دوی دوه زره نور بندیان هم ازاد شي.

د ملي امنیت شورا ویاند جاوید فیصل ټېره ورځ ازادي راډیو ته ویلي چې بین‌الافغاني خبرې باید له هر ډول خنډ پرته پیل شي.

هغه زیاته کړې: «د طالب بندیانو د خوشې کولو لړۍ د ولسمشر د فرمان پر اساس دوام مومي، خو د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې باید له قید او شرط او له څنډ پرته پیل شي ترڅو یوې دایمي او سراسري سولې ته ورسېږو.»

دا په داسې حال کې ده چې افغان حکومت تر دې وړاندې ویلي چې بین‌الافغاني مذاکراتو ته بشپړ تیاری لري او دا خبرې اترې به په راتلونکو ورځو کې په قطر کې پیل شي، خو طالبانو ټینگار کړی چې د دوی د ۵ زرو بندیانو له ازادېدو سره سم په یوه اونۍ کې به بین‌الافغاني خبرو ته چمتو شي.

په ورته وخت کې پخوانی طالب چارواکی او د افغانستان د خلاصون لارې شورا مشر سید اکبراغا وایي چې طالبان به د خپلو نورو دوو زرو بندیانو له خوشې کېدو مخکې د سولې خبرو ته حاضر نه‌شي.

هغه ویلي: «د حکومت له خوا باید دوه زره نور طالبان هم ازاد شي، ځکه چې دا له امریکا سره د سولې په هوکړه کې شامله ده. په دې صورت کې به طالبانو ته پلمه هم پاتې نه شي، طالبان اوسمهال له امریکا سره د هوکړې پر اساس خپل دریځ توجیه کوي.»

د یادونې ده چې افغان حکومت تر اوسه ۳ زره طالب بندیان او طالبانو تر دې دمه ۵۷۱ حکومتي بندیان ازاد کړي دي، خو افغان حکومت ویلي چې د طالبانو له لوري په خوشې شویو بندیانو کې ملکي وگړي هم شامل دي.

# ملگري ملتونه: افغانستان لاهم د ماشومانو لپاره تر ټولو مرگونی هېواد دی

ملگرو ملتونو په خپل یوه تازه راپور کې افغانستان په نړۍ کې د پنځم پرله پسې کال لپاره د ماشومانو لپاره لومړی مرگونی هېواد اعلان کړی دی.

د ملگرو ملتونو په دغه راپور کې راغلي چې په تېر ۲۰۱۹ ز کال کې څه باندې درې زره ماشومان په افغانستان کې وژل شوي او په همدې شمېر کې نور ټپیان شوي دي.

د یاد راپور پر اساس، دغه افغان ماشومان د جگړو، ماین چاودنو، ځانمرگو بریدونو او د تاوتریخوالي په ځینو نورو پېښو کې مړه او ټپیان شوي دي.

سرچینې زیاته کړې چې د ۱۲۰۰ ماشومانو د وژنې مسوولیت پر وسله والو طالبانو، د نږدې زرو نورو ماشومانو د وژنې مسوولیت پر افغان امنیتي او دولت پلوه ځواکونو او د پاتې نورو مسوولیت پر ناپېژندل شوو وسله والو ډلو اچول شوی دی.

په وسله والو نښتو کې د ښکېلو ماشومانو لپاره د ملگرو ملتونو د سرمنشي استازې ویرجینیا گامبا ویلي چې افغانستان په دغه کال کې یو ځل بیا د ماشومانو لپاره به نړۍ کې لومړی مرگونی هېواد پېژندل شوی، خو زیاتوي چې د ۲۰۱۸ ز کال په پرتله په دغه کال کې د ماشومانو مرگ ژوبله کمه شوې ده. مېرمن گامبا د ماشومانو د مرگ ژوبلې کمېدو لامل د افغان حکومت او نړیوالو ځواکونو له خوا د ځینو اقداماتو ترسره کېدل بللي دي. نوموړې زیاته کړې چې په ۲۰۱۹ ز کال تر ټولو زیاته مرگ ژوبله د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال ماشومانو ته اوښتې ده. د ملگرو متلونو دغې استازې هیله ښودلې چې په افغانستان کې د سولې ټینگېدو په اړه له روانو هڅو سره به د ماشومانو مرگ ژوبله کمه شي. په دغه راپور کې له افغانستان وروسته سوریه، یمن په دویم او دریم ځای کې د ماشومانو لپاره د مرگونو هېوادونو په توگه یاد شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره میاشت د کابل ښار په شپږمه امنیتي حوزه کې پر یو سل بستریز روغتون وسله وال برید کې د میندو او ماشومانو په گډون لسگونه کسان ووژل او ټپیان شول.

وړمه ورځ د بې پولې ډاکترانو سازمان د برید له امله په دغه روغتون کې د زېږنتون خانگې د تړل کېدو خبر ورکړ. افغان حکومت او وسله والو طالبانو تر اوسه د ملگرو ملتونو پر دغه راپور تبصره نه ده کړې.

# د کرونا ویروس د اقتصادي زیانونو د مخنیوي لارې چارې

لیکنه: ضیاالحق فضلي

څو میاشتې وړاندې کرونا ویروس په چین کې خپور شو. په لومړیو کې خلکو یوازې تر چینه محدود گاڼه او تمې دا وې چې نورې نړۍ ته به سرایت ونه کړي، خو خبره سرچپه شوه. کرونا په نړیوالې وبا بدله شوه، په چین کې د زرگونو خلکو له نیولو وروسته ټولې نړۍ ته ورسېده چې د نورو زیانونو تر څنگ یې شدید اقتصادي زیانونه هم رامنځته کړه او دا لړۍ لا هم دوام لري.

د نړۍ سیاسي رهبرانو هم په لومړیو کې د کرونا ویروس بابېزه وگڼه او ډېره پاملرنه یې ورته ونه کړه، دوی ویل چې د دوی تر هېواده یې رارسېدل ناممکن دي، خو کرونا د تمې خلاف د همدوی هېوادونو ته تر ټولو مخکې ورسېده او په ډېرې چټکۍ پرې زرگونه خلک مبتلا او ډېری ترې مړه شول.

له ټولو پرمختللو وسایلو او خدمتونو سره سره هم نړیوال په دې ونه توانېدل چې د دې مرگوني ویروس د چټکې خپرېدا مخنیوی وکړي. پایله یې دا شوه چې د ټولې نړۍ چارې په ټپه ودروي او خلک په خپلو کورونو کې قرنطین کړي.

د کرونا ویروس له خپرېدو سره خلک په خپلو کورونو کې قرنطین شول، خلک بې کاره شول، ښوونځي او نور تعلیمي بنسټونه وتړل شول، الوتنې بندې شوې، لویې تولیدي فابریکې بندې شوې او د خوراکي توکو بیې له حده زیاتې لوړې شوې. دې چارې د نړیوالو ستونزې زیاتې کړې او د اقتصادي بحران رامنځته کېدو وېره یې لوړه کړه.

دا اټکل نه و شوی، چې کرونا به د ۲۱ مې پېړۍ اوسېدونکو ته بلا وگرځي او د روغتیایي گواښونو ترڅنگ به اقتصادي بحران هم نړۍ ولړزوي. داسې ویل کېږي چې د دې ویروس د خپرېدو له کبله د نړۍ بازارونه له سترو اقتصادي زیانونو سره مخ دي او ډېرو یې خپلو کارکوونکو ته رخصت ورکړی دی.

د اسیا پرمختیایي بانک په دریو مختلفو سناریوگانو کې ویلي وو چې تر شپږو میاشتو د دې ویروس د دوام له کبله به د نړۍ اقتصاد ته ۳۴۶.۹ میلیارده ډالر صدمه ورسېږي.

د ملگرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزو چارو ډیپارټمنټ (DESA) هم په ۲۰۲۰ز کال کې د نړۍ د اقتصادي حالت په اړه وړاندې شوي راپور کې لیکلي چې نړۍ د کوویډ- ۱۹ پانډمي څپو د ډېرېدو له کبله په ۲۰۲۰ز کال کې د نړۍ اقتصاد ته ۸.۵ ټریلیونه ډالر زیان رسوي. دا بحران به د نړۍ د څلورو کلونو د اقتصادي تولیداتو د له منځه تلو لامل شي.

د نړیوالو اقتصادي کارپوهانو په باور، د نړۍ مخ پر ودې هېوادونو د ناخالصو تولیداتو کچه به منفي ۵ ته راښکته شي، دا په داسې حال کې ده چې مخ پر ودې اقتصادي تولیدات به تر ۰.۷ په سلو کې راکم شي.

د ملگرو ملتونو د اقتصادي چارو ستر کارپوه الیوټ هرېس د کرونا ویروس د خپرېدو له کبله د نړۍ اقتصاد ته د اوښتونکي زیان په اړه وایي چې د کرونا ویروس په خپرېدو سره د نړۍ اقتصادي حالت په بشپړ ډول بدل شوی دی، دا ویروس د اقتصادي او روغتیایي بحران لامل شوی، د داسې بحران چې د ملگرو ملتونو په اقتصادي راپور کې یې د شدت د کچې وړاندوینه نه وه شوې. د رخصتیو او سرحدونو د بندولو طرحې د اقتصادي فعالیتونو او په ټوله نړۍ کې د میلیونونو کسانو د بې کاره کېدو سبب شوي دي.

په مختلفو برخو کې د اقتصادي فعالیتونو کمښت او نااطمناني ډېرښت د نړۍ اقتصاد د ۲۰۲۰ ز کال په دویم پړاو کې له یوه واقعي ځنډ سره مخ شوی دی. نړۍ اوسمهال له یوې شدیدې اقتصادي ځوړتیا سره چې د سترې اقتصادي ځوړتیا له وخت ورسره مخ و، لاس او گرېوان یو او دا یو تریخ واقعیت دی.

په داسې حالاتو کې له کرونا سره د مبارزې او د یوه ناورین رامنځته کېدونکي اقتصادي حالت د کمولو لپاره په کار ده چې دولتونه د کرونا له کبله رامنځته شوی قرنطین نرم او ځینو فابریکو ته د کار او تولیدولو اجازه ورکړي. که څه هم له دې ویروس د مرگ ژوبلې او پرې د اخته کېدو بهیر یو څه کم شوی، خو د دې ویروس راتلونکی ناڅرگند او اقتصادي او ټولنیزې پایلې یې هم تر اوسه مشخصې نه دي. ځینې هېوادونه چې د انسانانو د ژوند د ژغورلو او اقتصادي لوړتیا تر منځ انتخاب کې بند پاتې دي په ډېر احتیاط یې د کرونایي محدودیتونو د ختمولو لړۍ پیل کړې ده، تر څو وکړای شي د خپل اقتصاد بېړۍ په کراره کراره چالانه کړي.

د اقتصادي زیانونو د مخنیوي لپاره په کار ده، چې د عمومي روغتیا د ساتنې او مالي چارو د ښه والي لپاره نوې ستراتېژۍ او طرحې رامنځته شي، تر څو د ویروس د خپرېدو مخنیوی هم وشي او اقتصادي چارې هم له ځنډ خلاصې شي. د کارموندنې له بهیره باید ملاتړ وشي او د مصروفونکې باور پخواني حالت ته وگرځوي. له کرونا وروسته اقتصادي چټکیا او ځواک له کارموندنې او عایدموندنې څخه د دولتونو په ملاتړ پورې اړه لري.

# د حکومت پر پور اخیستنه نیوکې؛

## خلک: زموږ د روغتیا په پلمه د مفسدو کسانو د جیبونو ډکولو ته پور مه اخلئ



وروسته له هغه چې افغان حکومت د پیسو له نړیوال صندوق د پور اخیستلو پرېکړه وکړه، گڼو افغانانو له دې پرېکړې سره مخالفت وکړ. حکومت ولسي جرگې ته یوه طرحه ولېږله چې له مخې به یې له کرونا سره د مبارزې په نامه د پیسو له نړیوال صندوق میلیونونه ډالر پور اخلي. ولسي جرگې طرحه رد کړه، مشرانو جرگې تایید کړه، بیا گډ کمېسیون بحث وربانديې وکړ او پرېکړه دا شوه چې حکومت دا پور اخیستلی شي. اوس عامو افغانانو پر حکومت غږ کړی چې دغه پور دې نه اخلي او راتلونکو نسلونو ته دې د اوږو بار نه پرېږدي.

له هغې ورځې چې په افغانستان کې د کرونا د خپرېدو راپورونه خپاره شول، گڼو نړیوالو بنسټونو له افغانستان سره د دغه ویروس پر وړاندې په مبارزه کې د مرستې ژمنه وکړه. څه کم یو میلیارد ډالر مرستې له افغانستان سره وشوې چې دا ټولې به له کرونا سره د مبارزې په برخه کې لگول کېږي. حکومت پر دې بسنه ونه کړه د پیسو د نړیوال صندوق تر یوه اعلان وروسته یې ژر پرېکړه کړه چې له دغه صندوق به پیسې پور کوي.

په پارلماني چارو کې د دولت وزارت په یوه اعلامیه کې وویل چې د ولسي جرگې او مشرانو جرگې گډ کمېسیون د حکومت طرحه تایید کړې ده او اوس حکومت کولی شي د پیسو له نړیوال صندوق ۲۲۹ میلیونه ډالر پور واخلي. دغه وزارت وایي چې د پیسو نړیوال صندوق د دغه پور هېڅ ډول ټیکټانه له دوی نه غواړي. دغه پورونې د اقتصادي شنونکو او عامو افغانانو غبرگون له ځان سره لرلی دی. څه موده وړاندې مسیر هم په یوه راپور کې د اقتصادي کارپوهانو له خولې ویلي وو چې د فساد په موجودیت کې دغه ډول پورونه د افغانستان په زیان دي.

اوس عامو افغانانو په ټولنیزو رسنیو کې د (زما د روغتیا په پلمه پور مه اخلئ) تر نامه لاندې هشټېگ چلوي. دوی وایي چې حکومت په فساد کې ډوب دی، نو ولسمشر غني دې د مسفدو چارواکو د جیبونو ډکولو لپاره راتلونکي نسلونه نه پوروړي کوي. د سمیرا نوري په نامه د ټولنیزو رسنیو یوې کاروونکې لیکلي دي، ولسمشر غني په تېرو پنځو کلونو کې د افغانستان د پرمختگ ژمنې کړې وې، خو اوس یې دا دی پور ته اړ کړ. د نوموړې په وینا: ((ټاپې، کاسا زر، هوایي دهلیزونه، د اوبو مدیریت، د لمدې او وچې مېوې صادرات، د مالیاتو په راټولونه کې شفافیت، د مخابراتي شبکو مالیات، گمرکي عواید دا هر څه څه شول چې نن افغانستان پور ته اړ دی؟ ولې راتلونکي نسلونه پوروړي کېږي؟)).

د ټولنیزو رسنیو بل کاروونکي او د حقوقي چارو شنونکي عبدالستار سعادت هم پر خپله فېسبوک پاڼه د دغه پور په اړه اندېښنه څرگنده کړې ده. نوموړي ویلي، د اقتصادي مسایلو د شنونکو کار دی چې د دې پور په زیانونو یې ولس پوهولی وای. نوموړی سره له دې هم په داسې یوه مفسد نظام کې دغه ډول پورونه د هېواد په گټه نه بولي.

بلخوا د ولسي جرگې یوه غړې فرزانه کوچۍ هم وایي چې د دغه پور د اخیستو مخالفه ده. نوموړې پر خپله ټوېټرپاڼه لیکلي چې په حکومت کې په پراخه کچه فساد موجود دی، د دې پیسو د لگېدو په اړه شفافیت او وضاحت نشته او دا چې په راتلونکې به افغانستان دغه پیسې له کومه درکه د پیسو نړیوال صندوق ته ورکوي؟ نو ځکه یې ددغه پور د اخیستو مخالفت کړی دی. د نوموړې په وینا ((د کرونا پر وړاندې د مبارزې لپاره له (IMF) څخه د پور اخیستو په هکله مې د مخالفت دلیل د شفاف مصرفي میکانیزم نشتون. بیځایه مصارف، د پیسو حیف و میل، ناروغانو ته د صحي خدماتو په نشت حساب، مستحقینو ته د مرستو نه رسیدل دي)).

بلخوا په پارلماني چارو کې ددولت وزارت بیا ویلي وو چې د دغه پور افغانستان ته ځکه ښه دي چې ټیکټانه نه لري، که تر لسو کلونو یې پرې نه کړو یوه برخه یې راته ښنل کېږي او بل له کرونا سره د مبارزې اداري دغه پیسو ته اړتیا لري.

# د روغتیا نړیوال سازمان: د کرونا ویروس د بیاځلي اوج احتمال باید له پامه ونه غورځول شي



د روغتیا نړیوال سازمان خبرداری ورکړی چې ډېری هېوادونه باید دا احتمال له پامه ونه غورځوي چې کرونا ویروس یو وار بیا اوج ته رسېدلای شي.

یاد سازمان دغه خبرداری دې ته په پام ورکړی چې اروپایي هېوادونه هغه بندیزونه چې د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره یې لگولي وو، هره ورځ لا زیات نرموي. دا په داسې حال کې ده چې په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۸.۲ میلیونو واوښتې. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر اوسه ۴۴۲ زره او ۷۴۶ کسان مړه شوي او له ۴.۲ میلیونو ډېر رغېدلي دي.

د روغتیا د نړیوال سازمان مشر ټېدروس اډهانوم گبریوسس ویلي چې په اسیایي هېوادونو او سویلي امریکا کې دغه ویروس په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی.

دا په داسې حال کې ده چې د چین حکومت وړمه ورځ د هغه هېواد د پلازمېنې په ځینو برخو کې ځانگړې سیمې قرنطین کړې، د کرونا ویروس د معاینې بهیر یې گړندی کړی او هڅه یې پیل کړې چې د وبا د اوج مخنیوی وکړي.

د راپورونو له مخې، په بیجېنگ ښار کې ۲۹ استوگنې سیمې تر کلکې څارنې لاندې شوې او دې سیمو ته د تگ او راتگ لارې څارل کېږي. په دغه ښار کې نږدې پنځوس ورځې هېڅ نوې پېښه نه وه ثبت شوې، خو په دې ښار کې یو وار بیا د وبا د خپرېدو وېره زیاته شوې ده.

دغه راز نیوزیلنډ چې یوازې پینځه میلیونه وگړي لري، تېره اونۍ یې اعلان کړی و چې په ټول هېواد کې یې ۲۲ تنه د کوویډ-۱۹ ناروغۍ له کبله مړه شوي او ویروس یې له منځه وړی دی.

خو وروسته، دوه وگړي چې له برېټانیا د خپل ناروغ خپلوان لیدو ته ورغلي وو، مثبت وختل او له دې کبله یو وار بیا په دې هېواد کې د ویروس د مثبتو پېښو د ثبت خبر خپور شو.

سربېره پر دې چې مکرراً خبرداري ورکول کېږي، یو شمېر اروپایي هېوادونه لا هم د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره لگولي بندیزونه کموي.


اروپا د نړۍ هغه لویه وچه وه چې تر هر بل ځای د کرونا ویروس سخته وځپله، خو په وروستیو اونیو کې د نویو پېښو، مړو او په روغتونوکې د کرونا د ناروغانو شمېر په بې ساري ډول کم شوی و. له دې کبله، یو شمېر اروپایي هېوادونو حتی له خپلو گاونډیانو سره د تگ راتگ لپاره پولې پرانیستلې، خو له دې سره هم، هر هېواد په خپله خاوره کې د کرونا ویروس د کنټرول لپاره ځانگړي تدابیر لري.

## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه
### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايۍ
### نهم څپرکی




**دغه مهارتونه د شبکه یي بازارموندنې په مټ حقیقي ژوند دربښيي:**

- د بریالیتوب فکر او کړه وړه
- بریالیتوب ته هڅوونکی لباس
- ځاني وېره، شک او د باور نه درلودلو له منځه وړل
- د ردولو او نه منلو له وېرې خلاصېدل
- د اړیکو نیولو مهارتونه
- انساني مهارتونه
- د وخت منظمولو مهارتونه
- د مسئولیت منلو مهارتونه
- د عملي موخو ټاکنه
- د پیسو منظمولو مهارتونه
- د پانګونې مهارتونه

د بازار موندنې ښه شبکه د زده کړو ښه پروګرام وړاندې کوي. د دې ارزښت دومره زیات دی چې هېڅ قیمت نشو ورته ټاکلای.
رښتیا هم، داسې ځای به پیدا نه کړئ چې دا هر څه په پیسو در زده کړي؛ خو دلته د زده کړې ترڅنګ پیسې هم لاس ته درځي.
مور په شبکه یي بازار موندنه کې یوه جمله لرو چې دا هغه تجارت دی «چې د پیسو ګټلو تر څنګ زده کړه هم پکې کېږي.» دا ډېره جالبه خبره ده، ځکه د تجارت اصلي ټکی پکې ویل شوی. په دې کې هرڅه په عملي ډول کوې، داسې نه ده لکه د ټولګي درس چې کلونه کلونه دې بل چا ته غوږ نیولی وي.
شبکه یي بازارموندنه د ژوند د حقیقي زده کړې ښوونځی دی چې خلکو ته د کارکوونکي کېدو مهارتونه نه، بلکې د تشبث مهارتونه ورښودل کېږي.
په شبکه یي بازارموندنه کې تر تیوریکي او نظري درس، عملي درس ډېر وي. که له کاروباري اړخه ټاکلې برنامه ترسره نه کړې یا پیسې ونه ګټې، نو څه مو چې په دې کاروبار کې زده کړل، د پاتې ژوند لپاره مو ډېره لویه لاسته راوړنه ده. ډېرو خلکو چې په شبکه یي بازار موندنه کې کومه تجربه او زده کړه ترلاسه کړې، د هغو په مټ په نورو تجارتونو کې هم بریالي شوي دي.
له ډېرو لسو کلو راهیسې چې زه خلکو ته د دې کاروبار مشوره ورکوم، یو دلیل یې همدا دی. که تاسو د شبکه یي بازارموندنې له یوه ښه شرکت سره یو ځای شئ، نه یوازې ستاسو د ژوند کولو مسیر به در برابر کړي، بلکې د بریالیتوب لپاره به د مهارتونو او وړتیاوو په غښتلي کولو کې هم مرسته درسره وکړي.
شبکه یي بازارموندنه د ژوند د حقیقي زده کړې ښوونځی دی چې خلکو ته د کاروکوونکي کېدلو مهارتونه نه، بلکې د تشبث مهارتونه ورښيي.

### لسم څپرکی
### ۱۰. د ځاني (شخصي) پرمختګ ګټوره لار

زه پوهېږم چې تاسو څه فکر کوئ. تاسو وایئ:«کیوساکي! ته ساده یې؟ دا احساساتي بحثونه څه شی دي او له ځاني پرمختګ څخه دې موخه څه ده؟» تاسو به دا وایئ چې «جنګي ډلې ته اړتیا نه لرو، بلکې هدف ته رسېدل غواړو او غواړو شتمن شو.»
تېزي او تونديي مه کوئ! ما سادګي نه ده کړې. اصلاً زه رښتینی یم. شتمنېدل یوازې دا نه دي چې ته خپله د پنځوسو واحدو سیکه په قمار ولګوې او ګټه وکړې. او پوهېږم چې د ګټې کولو په داسې اسانه لاره پسې نه ګرځې. په خپلو اصلي ارزښتونو کې باید بدلون راوستل شي. تاسو باید نه یوازې خپل کار بدل کړئ، بلکې خپل فطرت او ځان هم باید بدل کړئ.
زما ملګری ډونالډ ټرمپ میلیاردر دی. کله چې د ملکیتونو بازار خراب شو، نژدې وه چې دی هرڅه له لاسه ورکړي. ټرمپ د نهه میلیارده او دوه سوه میلیونو ډالرو د پور کیسه کوي:«زه له یو ببوزله سره تېربدم. ومې لیدل چې هغه نهه میلیارده او دوه سوه میلیونه ډالر تر ما زیات لري، یانې فقیر هېڅ نه درلودل او زه دومره زیات پوروړی وم. نو فقیر تر ما شتمن و. ځکه هغه پوروړی نه و. پر فقیر د چا پور نه و. څه چې یې ګټل، هغه یې ګټه وه؛ خو ټرمپ نهه میلیارده او دوه سوه میلیونه پوروړی و. حیرانوونکې ده. ډېر وخت نه کېده چې ډونالډ ټرمپ بېرته زیاته شتمني پیدا کړه. دا پوهه، د پیسو ګټلو چل او هر څه د ده په فطرت کې وو. هغه فطرت او ماهیت چې ده د عمر په اوږدو کې خپل کړي وو.
زه هم همداسې تجربه لرم. تر ډېرش کلنۍ مخکې میلیونر وم؛ خو دوه کاله وروسته مې هر څه له لاسه ورکړل. زما شرکت کاملاً ناکام شو. شرکت او شتمني له لاسه ورکول د خوښۍ زیری نه دی؛ خو ډېره ښه تجربه ده. له هغو کلونو څخه مې ډېر څه زده کړل. د تجارت په اړه ښه پوه شوم، ان خپل ځان مې ښه وپېژانده.
**دوام لري...**

# د مطالعې فن

◀ اکسوس کتابپلورنځی

دا اصطلاح چې «دا اوښ د هر چا په دروازه کې چو دی» د واده، مرګ او نورو هغو پېښو لپاره کارول کېږي چې هر څوک په ژوند کې ورسره مخ کېږي.
پر دې سربېره که تاسو زده کوونکی یا محصل یاست، پکار ده چې مطالعه وکړئ، نوټ واخلئ او په ازموینه کې ګډون وکړئ، نو دغه اصطلاح ستاسو په اړه هم سمه ده.
د ښوونځیو او پوهنتونونو د اجباري مطالعې په اړه سلګونه کتابونه لیکل شوي؛ خو له بده مرغه زیاتره دغه کتابونه د لیکوالو له شخصي تمایلاتو او باورونو سرچینه اخلي او لارښوونې یې په علمي اصولو او تګلارو نه دي ارزیابي شوې، نو امکان لري چې ستاسو د مطالعې اوسنۍ طریقه ستاسو له موقعیت سره مناسبه نه وي.
په دې کتاب کې د مطالعې د اغېزمنتیا لپاره داسې سپارښتنې شوې چې په علمي اصولو ثابتې شوې دي. په کتاب کې وړاندې شوې طریقې ډېرې اغېزناکې او ګټورې دي. د دغو سپارښتنو په عملي کولو سره مو د مطالعې، زده کړې او یاد ساتلو کیفیت لوړولای شئ.
د مطالعې فن په دې نیت لیکل شوی چې د پوهنتونونو په بېلابېلو څانګو کې د مطالعې د مهارتونو د زده کړې په موخه تدریس شي. د دې تر څنګ نور مینه‌وال هم ګټه ترې واخلي.
د دې کتاب د سپارښتنو پلي کول هغو کسانو ته هم ګټور دي چې د درسي موادو په توګه یې لولي او هغو کسانو ته هم ګټه لري چې د ازادې مطالعې په نیت یې د لوستلو شوق لري.
د دې کتاب په لومړي څپرکي کې د مطالعې د طریقو پر ارزښت بحث کېږي او لوستونکي ته ښیي چې څنګه مطالعه وکړي څو تر نورو محصلانو مخکې شي. په دویم څپرکي کې د کلامي زده کړې لپاره د دریو پړاوونو نظریه وړاندې شوې، چې د نورو څپرکو د مطالعې لپاره د بنسټیز چوکاټ حیثیت لري. د دغې نظریې درې پړاوونه پاملرنه، خپلې ژبې ته اړول او نوو اطلاعاتو ته له پخوانیو هغو سره اړیکه ورکول دي. په درېیم څپرکي کې له دغو دریو پړاوونو څخه په ګټنې د مطالعې اغېزمنې لارې چارې وړاندې کېږي. څلورم څپرکی دې ته ځانګړی شوی چې د استاد له درسي توکو، کتابونو او له نورو رسنیو څخه څه ډول زیاته ګټه اخیستلای شو. په پنځم څپرکي کې له حافظې څخه د ګټې اخیستنې او د هغې د ظرفیت لوړولو په موخه څو ساده او په عین حال کې ګټورې لارې چارې وړاندې شوې دي. شپږم څپرکی له لوستونکي سره مرسته کوي چې د یادو څلورو پړاوونو له پروګرام څخه په ګټه اخیستو ازموینې ته تیاری ونیسي او په بریالۍ توګه ازموینه ورکړي.
په اووم څپرکي کې لوستونکی د درسي مقالو د لیکلو او تشریحي ازموینو ورکولو چل زده کوي. په اتم څپرکي کې د علمي ګټې اخیستنې لپاره د مخکینیو څپرکو د مطالبو لنډیز راغلی. په دې څپرکي کې هڅه شوې چې له لوستونکي سره داسې مرسته وشي چې هغه اړتیا ورته لري او ځان ته د مطالعې داسې پروګرام جوړ کړي چې د ده له ژوند او شرایطو سره سم وي.
د هر څپرکي په پیل کې د هغه موخې راغلې او ویل شوي چې لوستونکی باید د څپرکي تر پایه کوم مطالب زده کړي. پر دې سربېره، له لومړي تر اووم پورې د هر څپرکي په پیل کې د اصطلاحاتو نوملړ راغلی چې د څپرکو په زده کړه کې د دغو اصطلاحاتو ارزښت ښیي.
د کتاب په پای کې وییپانګه ده چې دغه ټول اصطلاحات له خپلو تعریفونو سره پکې راغلي.
د هر څپرکي په پیل کې د اصطلاحاتو تر نوملړ وروسته لنډه سریزه او د ځینو څپرکو په پای کې د مطالبو لنډیز هم راغلی.
مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.






## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | حقیقت و آفرینش نظریه یی تکامل | محمد فتح الله ګولن/صادق آینه پور | ۱۵۰ ؋ |
| ۲ | جهاد روح و حقیقت آن در اسلام | محمد فتح الله ګولن/صادق آینه پور | ۱۵۰ ؋ |
| ۳ | مبانی مدیریت بحران | مهدی ابراهیمی نژاد رفسنجانی | ۱۷۰ ؋ |
| ٤ | زندګی پیامبر ما | یوسف قره ګل/احمد حسینی مروی | ۱۰۰ ؋ |
| ۵ | نورجاویدان جلد اول و دوم | محمد فتح الله ګولن | ٦۰۰ ؋ |
| ٦ | کسیر جاودانګی کوزه شکسته | محمد فتح الله ګولن | ۱۸۰ ؋ |
| ۷ | هیګل روح رستاخیزی در اندیشه و عمل | محمد فتح الله ګولن/سهراب عمر | ۲۰۰ ؋ |
| ۸ | درسایه ی ایمان جلد اول و دوم | محمد فتح الله ګولن | ۳۰۰ ؋ |
| ۹ | جنبش ګولن | هلن رز ایباف/فیروزه درشتی | ۲۰۰ ؋ |
| ۱۰ | تقدیر از دیدګاه قران و سنت | محمد فتح الله ګولن | ۱۲۰ ؋ |
| ۱۱ | منشور جلد اول و دوم | محمد فتح الله ګولن/سهراب | ۳۲۰ ؋ |
| ۱۲ | در محور ارشاد | محمد فتح الله ګولن | ۱۳۰ ؋ |
| ۱۳ | اقتصاد پیژندنه | محمد داود نیازی | ۳۵۰ ؋ |
| ۱٤ | د نړیوالو معاهداتو حقوق | ډاکتر موسی زاده/فضل ولي شیرانی | ۲۵۰ ؋ |
| ۱۵ | د افغانستان د اوبو حقوق | برکت الله اریوبي | ۱۰۰ ؋ |
| ۱٦ | متحده ایالات او د نړۍ ستر قدرتونه | بوزن بیری/روح الله زهیر | ۳۰۰ ؋ |
| ۱۷ | ملي امنیت او نړیوال نظام | ډاکتر جلیل روشندل/احمد شاه ویاړ او عزت بدلون | ۲۷۰ ؋ |
| ۱۸ | ستراتیژیک‌مدیریت | فرېډ آر ډیویډ/میراحمد یاد | ۲۷۰ ؋ |
| ۱۹ | کاروبار | محمد داود نیازی | ۲۲۰ ؋ |
| ۲۰ | د کار ستراتیژي | برایان ټریسی/لعل الدین عاطف | ۱۵۰ ؋ |
| ۲۱ | د مغزو کنټرول | فرشاد نجفی پور/لعل الدین عاطف | ۱۵۰ ؋ |
| ۲۲ | عامه تمویل | امان الله، محمد دواد نیازی | ۲۳۰ ؋ |
| ۲۳ | بریالی فکر | جان مکسویل/اسماعیل آشنا | ۲۵۰ ؋ |
| ۲٤ | د کاروبار اخلاق | انډریو ګیلیر/میراحمد یاد | ۲۳۰ ؋ |
| ۲۵ | اصول مدیریت | علی رضائیان | ۲۵۰ ؋ |
| ۲٦ | مبانی سازمان و مدیریت | علی رضائیان | ۳۵۰ ؋ |
| ۲۷ | اقتصادشهری | نعمت الله اکبری | ۳۲۰ ؋ |
| ۲۸ | سیاست و حکومت خاورمیانه | حبیب الله ابوالحسن شیرازی، اسلان قربانی شیخ نشین، رضا سیمبر | ۲۰۰ ؋ |
| ۲۹ | مبانی مدیریت رفتار سازمانی | علی رضائیان | ۳۵۰ ؋ |
| ۳۰ | شبکه یي دولت | تیمور شاران/سمیع الله مجاهد | ۲۵۰ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ      اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

همیانی

# ټاکل شوې موخې مو څومره حقیقت لري؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

ایا له هغو امکاناتو چې تاسې یې په واک کې لرئ، موخو ته د رسېدو لپاره مو په رښتیني توګه ترې ګټه اخیستې ده؟
دوري روتیګر وایي: «واقعیت د خیالونو دښمن دی؛ خو د موخو دښمن بیا نه دی».
د واقعیت د تعریف پر اساس ممکنه ده چې موخې د پر واقعیت شروع شي. موخې باید عالي، جالبې او واضح وي. په هر صورت، موخې د هیلو، امیدونو او امکاناتو زیږنده دي. هغه د تصور او نوښت پایله ده. که موخې د تحقق فرصت ونه لري، په تعقیبولو ارزي؟ فکر نه کړم چې داسې دې وي.
موږ له مور، پلار، ښوونکو او ویناوالو الهام اخیستی چې وایي: «تر هغه ځایه چې موخې کولای شي تاسې له ځان سره یوسي، د پرمختګ پر لوري ځی».
موږ ته ویل شوي چې «پر هرڅه مو چې باور وکړ، کولای شی لاس ته یې هم راوړی». ادموند اُنیل موخې ټاکونکو ته وایي: «تاسې د هغه توانایی درلودونکي یاستی چې د خپلي خوښې ځای ته پرې ورسېږی». که تاسې وغواړی، بالقوه زیاتې وړتیاوې لری. هر وخت تر هغه چې تاسې یې وړتیا لری، لوړ انتخاب وکړئ، په دې ډول کولای شی هرې موخې ته ورسېږی.
زه تر دې کچې له دې سره موافق یم چې د ځان لپاره مو ښه انتخاب وکړئ؛ خو پر دې باوري نه یم چې تاسې به حتماً هغه ته رسېږی. زه دومره توانایي نه لرم چې هر هغه څه مې چې په ذهن کې راګرځي، هغه لاس ته راوړم. دا له واقعیتونو سره همغږې نه ده.
ریچادر باخ وېي: «هېڅکله داسې هیله او غوښتنه مه کوئ چې هغه ته نه شی رسېدای». که یوه شېبه هم پر دې فکر وکړی، پوهېږی چې دا خبره واقعیت نه لري. هر ماشوم غواړي چې د مرغه په څېر الوتل وکړي، ایا دا هیله لرل واقعیت لري؟ که تاسې هم دې ته ورته داسې ځینې پوښتنې په ذهن کې لری، هېڅکله نه شی کولای چې هغه ته ورسېږی.

د بریا په اړه ذهني تېروتنه

دې ته مو باید پام وي چې یوازې باور لرل اصلي موخه نه ده. دا چې په ټول توان سره د یوې موخې پر حقیقت بدلول غواړی، دا هم کاپي نه ده. ځینې د زړه له تله غواړي چې موخې یې لاس ته راوړي. ایا کولای شی له واقعیته لرې موخو ته ورسېږی؟ نه، دا ممکنه نه ده.



موخې مو باید واقعیت لرونکې وي.

وړتیا، زیاته هڅه او یوه موخه

اوس به درته د ایکو پیپ شرکت د مدیر اندي هال کیسه وکړم. د اندي له موسیقۍ سره ډېره مینه وه. د اندي مور شارون وایي، اندي مخکې له دې چې خبرې زده کړي، سندرې یې ویلې. په داسې حال کې چې مور او پلار ډېری وخت مجبور وي چې اولادونه د موسیقۍ ویلو ته تشویق کړي. خو د اندي مور شارون بیا مجبوره وه چې خپل زوی د موسیقۍ له تمرین څخه راوګرځوي.
اندي لومړی ګیتار په اته کلنۍ کې ډالۍ واخیست، هغه خپله ټوله هڅه کوله چې آهنګ جوړ کړي، هغه د موسیقۍ له نورو آلاتو څخه پیانو او ترومپت هم زده کړل، خو مور شارون یې وایي، داسې مالومېږي چې اندي د نویو سندرو په جوړولو کې ښه وړتیا لري. اندي چې کله په شپږم ټولګي کې زده کړې کولې، ویې شوای کولای چې د موسیقي غړوونکو یو ګروپ جوړ کړي. هغه او ملګرو یې په ټورنټو کې د دوی کور ته نږدې په یوه سره خونه کې تمرین کاوه. کله چې اندي ۱۳ کلن شو، یو ملګري یې هغه ټلیفون واخیست چې ترانې یې پکې غږولې، دوی له دې موبایل څخه د ریکارډر په حیث کار واخیست.
اندي د دبیرستان په وروستیو کلونو کې له دې چې په مدرسه کې درس ووایي، ستړی شو. غوښتل یې چې نور له درس ویلو سره مخه ښه وکړي او د موسیقۍ په برخه کې کار شروع کړي. پلار یې له هغه وپوښتل چې د راتلونکي ژوند په اړه څه پلان لري. اندي لږ فکر وکړ او غوښتل یې پلار ته ووایي چې نور دبیرستان پرېږدي او غواړي چې په کور کې درس ووایي. اندي باوري و چې هره ورځ په دوو ساعتونو درس ویلو سره کولای شي د ښوونځي ټولې ستونزې حل کړي. بالاخره همدا فرصت ورته برابر شو چې ترانې ووایي، د موسیقي غړولو یو ګروپ جوړ کړي، پیسې وګټي او بالاخره یو البوم جوړ کړي. هماغه وو چې نور یې مور او پلار هم ورسره موافقه وکړه او دی هم لاس پکار شو. اندي پر دې سربېره چې په کور کې یې درس لوست، البوم یې هم جوړ کړ. دا وخت یې د موسیقۍ یوې مجلې ته پیسې ورکړې، څو دوی د هغوی په سټوډیو کې تمرین وکړي.
دا چې دا البوم یې خپور نه شو، اندي ترې ډېر څه زده کړل. هغه د ځان لپاره د موسیقۍ یو ګروپ جوړ کړ چې منچیستر نوم یې پرې کېښود. دوی د موسیقۍ د تجارت په اړه ډېر مطالب زده کړل او د خپل کار د پرمختګ لپاره یې یو پلان جوړ کړ. د دوی له ګروپه ځینو سندرو ویونکو ډېر ژر د پیسو ګټلو په خاطر له نورو سره قراردادونه وکړل او په دې سره یې د هرڅه کنټرول له لاسه ورکړ او هماغه وو چې تر ډېره یې کار له ماتې سره هم مخ شو.
خو اندي بیا نورې ایډیاوې درلودې، هغه نه غوښتل چې له نورو سره قرارداد وکړي او په دې ډول ځان په ستونزو کې راښکېل کړي، هغه یوازې د خپل ګروپ د شرایطو ښه کول غوښتل.
هغه د ډېرو موسیقي غړوونکو او فیلم جوړوونکو غوښتنې رد کړې او تر هغه یې صبر وکړ چې یو په زړه پورې پیشنهاد یې لاس ته راوړ. اندي هر وخت د یو داسې کس په لټه کې و، څو وشي کولای له هغه سره شراکت وکړي او هماغه وو چې بالاخره له سوني شرکت سره توافق ته ورسېد. هغه د بیانې(مخکې یو اندازه پیسې ورکول) لپاره ډېرې کمې پیسې پیدا کړې، خو د ګروپ سرپرستي یې شخصاً پر خپله غاړه واخیسته. اندي په دې پیسو سره وکړای شوی چې له نورو ګروپونو سره قراردادونه وکړي او پر ځان ډېر هنرمندان را ټول کړي. هغه دا وخت ۱۹ کلن و. هغه اوس د منچیستر شرکت مدیر دی. هغه تر اوسه ۱۵ د موسیقۍ البومونه خپاره کړي دي.
د اندي مور شارون وایي چې زوی یې تر اوسه ټولو ټاکل شوو موخو ته رسېدلی دی او اوس غواړي چې نورې موخې لاس ته راوړي. هغه د نورو موخو د لاس ته راوړلو په اړه د خپل زوی پر وړتیا هېڅ شک نه لري.

پر بخت باور مه کوئ

اورېدلي مو دي چې نیلز بُر د آس نال د خپل دفتر پر دېوال ټینګ کړی و. یو چا هغه ته وویل: «د یو عالم په حیث پر داسې خرافاتو باور لرل ډېره لرې خبره ده». هغه ځواب ورکړ: «البته چې باور پرې نه لرم، خو اورېدلي مې دي چې که باور پرې ولرې او که نه، سړي ته ښه فرصتونه برابروي».
«که مو موخې تر حدې زیاتې پر بخت او چانس متکي وي، له ستونزو سره مخ کېږی او که په مکمل ډول پر چانس باور ولری، پوه شی چې ټولې هیلې به مو پوره کړي».
که له حد زیات پر چانس باور ولری، ستونزه پېښوي؛ خو که سل په سلو کې پر ځان باور ولری، په ژوند کې مو ټولې هیلې پوره کولای شی. پابلیوس سیروس وایي: «دا ډېره بده ده چې یو څوک پر چانس باور لرل خپل عادت وګرځوي».
خیال پلو وهونکي کسان د خپلو موخو د تحقق لپاره پر چانس متکي وي، هغوی باوري دي چې که په مناسب وخت او مناسب ځای کې قرار ولري او یوه ښه شمېره یې په نصیب شي، بریالي کېږي او هیلې یې پر حقیقت بدلېږي.
څومره به ښه وای که همداسې شوي وی؛ خو داسې نه ده. رالف والدو وایي: «معمولي خلک پر چانس باور لري، خو پیاوړي خلک بیا پر علت او معمول فکر کوي».
کله چې د خپلو موخو د تعقیب لپاره حرکت کوی، باید له ځانه وپوښتئ: «ایا پر هغو امکاناتو تکیه کول چې زما په واک کې دي، موخو ته به مې ورسوي؟» هغه کسان چې خپلې موخې واقعیتونو ته په کتو ټاکي، د هغو کسانو په پرتله چې په خیالونو کې ژوند کوي، له بېلابېلو لار چارو استفاده کوي.

## ستولټنبرګ: د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې له روانو هڅو ملاتړ ته دوام ورکوو

د ناټو عمومي منشي ینس ستولټنبرګ ډاډ څرګند کړی چې دا ټرون به په افغانستان کې د سولې پروسې ملاتړ ته دوام ورکړي.
ستولټنبرګ دغه څرګندونې د بلجیم په پلازمېنه بروکسل کې د ناټو ټرون د غړو هېوادونو د دفاع وزیرانو د غونډې تر پیلېدو مخکې په یوه ویډیویي خبري کنفرانس کې کړې دي.
نوموړي د سولې له بهیره د دې ټرون د ملاتړ په اړه ویلي: «موږ د سولې د هڅو ملاتړ ته دوام ورکوو. موږ ټینګ باور لرو چې دغه پروسه باید د افغانانو په مالکیت او مشرۍ ترسره شي. په همدې دلیل هیله من یو او د افغانانو ترمنځ د سولې خبرو د پیلېدو د ټولو هڅو ملاتړ کوو.»
ستولټنبرګ دغه څرګندونې داسې مهال کوي چې په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو او سولې ته د رسېدو لپاره د امریکا متحده ایالتونو هڅې ګړندۍ شوي او د افغانستان حکومت هم له طالبانو سره د خبرو د پیلېدو لپاره په نږدې راتلونکي کې د هغوی د دوو زرو نورو بندیانو د خوشې کولو خبره کړې ده.



د سولې د هغې موافقې له مخې چې طالبانو او امریکا د فبرورۍ په ۲۹مه د قطر په پلازمېنه دوحه کې لاسلیک کړه، د افغانستان د حکومت له زندانونو به د طالبانو پنځه زره بندیان او طالبان هم د حکومت زر بندیان خوشې کوي. هغه شرط چې د مارچ په ۱۰مه د بین‌الافغاني خبرو تر پیلېدو مخکې باید دواړو لورو پوره کړی وی. د سولې د روان ټکني بهیر په اړه په دې وروستیو کې دغه‌راز اندېښنې وروسته له هغې یو څه زیاتې شوې چې په ځینو راپورونو کې وویل شول چې طالبان تر اوسه له القاعده سره اړیکې لري. د راپورونو له مخې، القاعده بیا په افغانستان کې فعاله شوې او له طالبانو سره په همکارۍ د حملو پلانونه ترتیبوي.
د ناټو عمومي منشي هم دغو اندېښنو ته پام په ښکاره له القاعده سره د طالبانو د اړیکو د خمتولو ژمنې ته اشاره وکړه او ویې ویل: «موږ په افغانستان کې د ځینو پرمختګونو شاهدان وو. د متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ د موافقې شاهدان وو. موږ د مهم اقدام، د طالبانو د بندیانو د خوشې کېدو شاهدان وو. موږ دغه‌راز یو څه د تاوتریخوالي د کمېدو په تېره بیا پر ناټو او د امریکا د متحده ایالاتو پر ځواکونو د حملو د کمېدو شاهدان وو. موږ همدا شان د دې شاهدان وو چې طالبانو له القاعده او نورو ترهګرو ډلو سره د اړیکو پرېکولو لپاره په ښکاره ژمنه کړې.»
د ناټو عمومي منشي دغه‌راز د افغانستان وضعیت ستونزمن وباله او له افغانانو سره‌یې د همکارۍ پر دوام ټینګار وکړ.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۴۰ |
| € | ۸۴,۹۰ |
| Rp. | ۴۷۰ |
| ₹ | ۹۸۰ |
| ¥ | ۱۰,۷۰ |
| £ | ۹۴,۴۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د غبرگولي ۲۸مه | د ۲۰۲۰ د جون ۱۷مه | ۵۵۲مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۰ | ماسپښین ۱۱:۵٤ | مازیگر ۰۳:٤۰ | ماښام ۰۷:۰۷ | ماخوستن ۰۸:۵۲

## نړۍ



# د روغتیا نړیوال سازمان: د کرونا ویروس د بیاځلي اوج احتمال باید له پامه ونه غورځول شي

۳

## شورای طبی افغانستان: بیشترین بیماران کرونا به علت نبود اکسیجن تلف شده اند




شورای طبی افغانستان می گوید که یافته های نظارتی این نهاد نشان می دهد که اکثریت مبتلایان به ویروس کرونا به دلیل کمبود اکسیجن در شفاخانه ها تلف شده اند. نسرین اوریاخیل، رئیس شورای طبی افغانستان، که دیروز در یک نشست خبری در کابل صحبت می کرد، گفت که دو هفته از ارائه خدمات صحی در شفاخانه های کابل نظارت کرده و در این مدت دریافته اند که شفاخانه ها با کمبود امکانات طبی روبرو اند. وی، با اشاره به مواجه بودن شفاخانه های دولتی با کمبود امکانات طبی از جمله اکسیجن، می گوید که به همین دلیل اکثراً بیماران کرونا، وفات کرده اند. موصوف، با بیان این که سه ماه از تصویب طرح امتیازات کارمندان صحی موظف در بخش ویروس کرونا گذشته است، اما می گوید که تاکنون داکتران معاش نگرفته اند، باید هرچه عاجل مشکلات مالی شان حل گردد تا با روحیه بلند به کار شان ادامه بدهند. خانم اوریاخیل، بسیاری از داکتران جوان موظف در بخش کرونا را بی تجربه عنوان کرده و علاوه کرد که نیاز است تا داکتران با تجربه برای درمان ویروس کرونا در شفاخانه ها موظف شوند و نیروهای جوان نیز منحیث نیروی حمایتی حفظ شوند.

وی کمبود اکسیجن را یک مسئله داغ روز خوانده و گفت که این یک مسئله جدی است و باید هرچه عاجل تهیه شود بخاطری که قیمت آن در بازار نیز افزایش پیدا کرده است.

این در حالیست که از شیوع ویروس کرونا (کوید ۱۹) در افغانستان تاکنون بیش از ۲۶۳۰۰ تن به این ویروس مبتلا شده اند و به تعداد ۴۹۱ تن دیگر جان باخته و ۵۵۰۸ تن دیگر بهبود یافته اند.

## پامپیو: روسیه دې ژر تر ژره امریکايي پال ویلان له بنده خوشي کړي

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو له روسیې غوښتي چې امریکايي وگړی پال ویلان دې ژر تر ژره راخوشې کړي.


هغه ویلي چې په جاسوسۍ د دغه پخواني نظامي تورنول ناوړه چلند دی.

دا په داسې حال کې ده چې په مسکو کې یوې محکمې د تېرې دوشنبې په ورځ (د جون په ۱۵مه) پال ویلان د جاسوسۍ په تور په ۱٦ کاله بند محکوم کړ.

ویلان تر بندو دروازو شاته محاکمه شو؛ ځکه په شواهدو کې محرم اسناد وو او همداراز د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي په هدف هم دا محاکمه علني نه وه. په ورته وخت کې په روسیې کې د امریکا سفیر بیا د دغه اقدام په غبرگون کې ویلي چې دا قضیه پر عدالت تیروکې کول دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي چې دی په دې محکمې خواشینی شوی دی او امریکا جدي اندېښنه لري چې ویلان په روسیه کې پر عدالت له ولاړې محاکمې محروم کړای شوی دی. په ورته وخت کې د برېټانیا د بهرنیو چارو وزیر ډومینیک راب ویلي چې دی د ویلان پر وړاندې د محکمې له دې پرېکړې ډېر مایوسه شوی. د راپورونو له مخې، ویلان د امریکا تر څنگ د برېټانیا، کاناډا او ایرلنډ تابعیت لري، خو د روسیې د بهرنیو چارو وزارت بیا په دې قضیه کې د بې عدالتۍ ادعاوې رد کړې.

## گروسي: ایران دې نړیوالو څارونکو ته اجازه ورکړي چې له ټولو اټومي تاسیساتو لیدنه وکړي



د اټومي انرژۍ د نړیوالې ادارې مشر یو ځل بیا له ایرانه غوښتي چې څارونکو ته اجازه ورکړي چې هغه ځایونه وارزوي چې اټومي مواد یې پکې ځای پر ځای کړي دي.


د دې ادارې مشر ماریانو گروسي په ویانا کې خبریالانو ته ویلي چې تر څلورو میاشتو زیاته موده کېږي چې ایران دوو ځایونو ته د دې ادارې د ورتگ مخه نیولې ده. د ده په وینا، ایران شا او خوا یو کال کېږي له اټومي موادونو او فعالیتونو سره اړوندو پوښتنو د ځواب روښانه کولو لپاره هېڅ بحثونو ته نه دی حاضر شوی. نوموړي له ایران وغوښتل چې په چټکۍ سره دې همکاري وکړي. هغه زیاته کړې چې په دې اړه د ایران لوړپوړو چارواکو ته ویلي، خو تر اوسه یې مثبت ځواب نه دی ترلاسه کړی. گروسي ویلي: «موږ دې همکارۍ ته اړتیا لرو، زه خفه یم چې په داسې وخت کې موږ پر دې موضوع سره مخالفت لرو.»

که څه هم دا دوه ځایونه د ایران د اټومي فعالیتونو مهم ځایونه نه گڼل کېږي، خو دا اداره وایي چې ایران باید له تېرو شلو کلونو راهیسې خپل اټومي فعالیتونه او مواد روښانه کړي.

په ورته وخت کې ایران بیا وایي، نړیواله اټومي اداره هېڅ قانوني حق نه لري چې د دغه هېواد اټومي ځایونه وڅاري.

## ژوند

## د ډېرې غوسې پایله خطرناکه وي




ښځه کول مو د وجدان له عذابه ژغوري او فشارونه مو له منځه وړي، چې دغه څه د روغتیايي او رواني مسایلو لپاره حیاتي ارزښت لري. هر څوک کېدای شي یوه ورځ تېروتنه وکړي. فکر وکړئ تاسې خپله تېروتنه کړې ده او له مقابل کس څخه یې د ښښنې تمه لرئ. ښښنه په شخص کې هیجاني او عاطفي حالت پیدا کوي. عاطفه، غوسه له منځه وړي، خو غوسه بیا د انسان مثبته انرژي له منځه وړي او کېدای شي کله ناکله خو یې د تباهۍ سبب هم شي. کېدای شي تر اوسه مو د ډېرو بدو پېښو لکه وهلو- ډبولو او یا قتل خبرونه اورېدلي وي. پوهېږئ! قتل ډېری وخت د ډېرې غوسې پایله وي. اوس فکر وکړئ چې که د خاوند او مېرمنې تر منځ هم ښښنه نه وي او ژوند یې له خپگان او غوسې ډک وي، برخلیک به یې څه وي؟

## که غواړئ پوستکی مو ځوان پاتې شي، دغه خواړه وخورئ!

د عمر د تېرېدو او زړښت مخنیوی نه کېږي، خو زوړ ښکارېدل تر یوه وخته چاره لري.

**سبزۍ او تخمونه**

دا د کلسیم بډایې سرچینې دي او هډوکي له خرابېدو ساتي.

**لوبیا او نخود**


په پراخه پیمانه پروټینونه، منرالونه او ویټامینونه لري، چې ستاسو له سلامتۍ سره مرسته کوي.

**رومي بانجان**

دا یو داسې انټي اکسیډېنټ لري، چې پوستکي ته د اړتیا وړ پروټین ورکوي. د کولاگین (collagen) په نوم دغه پروټین د پوستکي د خرابېدو او سوروالي مخه نیسي.

**ځمکني توت**

دا هم د حجرو د ساتلو پراخ مواد او په



پوره اندازه ویټامین سي لري. دغه مېوه د پوستکي لپاره د کولاگین پروټینونو د بافت جوړېدل پیاوړي کوي، چې پوستکی هوار او نرم ساتي.

**منې**

په اونۍ کې یوه یا څو منې خوړل د زړه د حملې خطر کموي. منې هم د حجرو د سلامتۍ او نوي کېدو لپاره ډېر ویټامینونه لري.

ماسټر ډبټ کارټ

د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداگریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.

1515 | www.azizibank.af

عزیزي بانک
Azizi Bank

